# عزیز الله ماما اېړو کېښ

## یو تاثر

خان زمان کاکړ

عزیز الله ماما یادوو، ټول عمر د افتادګانِ خاک په ننګ جنګېدونکے دا سړے په څلورم دسمبر خاورو ته وسپارلے شو. په ژوند او هم په مرګ له خپلې خاورې سره پېوند پاتې شو. ماما سیاستدان، لیکوال، شاعر او وکیل ؤ، د باچاخان د لوئے تحریک ملګرے ؤ، کومېټه شخصیت ؤ او عالم باعمل ؤ.



زما د پاره د عزیز ماما نوم همېشه قابلِ احترام پاتې شوے ؤ. یو خو هغه د قلم سړے ؤ، د جهالتونو خلاف مسلسل جدوجهد کوونکے روشن فکر لیکوال ؤ. دوېم د پارلیماني سیاسي غېر سنجیدګیو په خېرن او خوړجن ماحول کښې یو انتهائي سنجیده سیاسي ؤ، د سیاست په رموزو او ادا پوهه سیاستدان ؤ. په علمي بنیادونو سیاسي مبارزه ئې خپله یوه منصبي فریضه ګرځولې وه.

ماما د پښین په توبه کاکړي غونډې وروستو پاتې سیمه کښې پېدا شوے ؤ. په هم دې سیمه کښې ئې شخصیت تبارز وکړو او ثابته ئې کړه چې په مړو ایرو کښې سرۀ بڅري شته. په دې بې سرنوشته سیمو کښې کۀ نن چرې چرې فکري رڼا تر سترګو کېږي نو د ماما په شمول د یو څو کسانو د مبارزو نتیجه ده. په قامي تحریک کښې د دې څېرو رول بنسټیزه تیږه تراشي. مونږ په تحریک کښې د شخصیت پرستۍ قائل نۀ یو خو د هغو شخصیتونو د رول یادونه قامي فریضه ګڼو، کوم چې مقدس ملي هدف ته لوګي شوي دي. ماما د څرګند هدف د پاره جنګېدونکے سړے ؤ، د یو مرکز په ارزښت خبر عزیز الله په بلوچستان کښې خپله بې سرنوشته ورځ نۀ شوه زغملې. د سرنوشت مقدمه او مدعا د هغه په هر لیک او وینا کښې څرګنده وه. هغه د دې حقیقت ادراک لرلو چې تر څو د یو مرکز خاوند نۀ شې، "مېوې به د رنه بل خوري ملا به ستا پکښې ماتېږي". د اویا په لسیزه کښې افغانستان ته تللے ؤ او د مرام د "سرې ډولۍ" د راوړلو د ارمان د قافلې ملګرے ؤ. په بېن الاقوامي او ملکي تناظر کښې د قامي سیاستونو په بحراني

صورتحال کښې خپلې نظريې او کمټمنټ ته وفادار پاتې شو او د ثور انقلاب په تناظر کښې د قامي سياست د "متبادل قيادت" د راپيدا کولو د خواهش د غلطۍ معترف ؤ. په نوې نړۍ کښې د نوي قامي سياسي تشکيل په تکميل ئې ثابته کړه چې د اې اين پي نه بغېر په بله لار قامي اهدافو ته رسېدل ممکن نۀ دي. اسفنديار ولي خان د ماما لخوا د قامي سياست د دائرې د تکميل عمل د تحريک لويه کاميابي ګڼله. د ماما په واسطه دلته تحريک لوئے کېفيتي او نظرياتي پرمختګ ته لار وموندہ او زړه قبائلي ډانچه له شکست سره مخامخ شوه.

هم خيال او هم راز ملګرے لطيف اپريدے ئې په حقله وائي "د عزيز ماما د شخصيت ګڼ اړخونه وو. اول خو هغه ډېر عالم فاضل سړے ؤ. دوېم ډېر منظم سړے ؤ. د هر اجلاس او غونډې روداد به ئې د ځان سره ليکلو. دا د ډېر منظم او ذمه وار سړي کار وي. هغۀ تاريخ محفوظول غوښتل. درېم د هغۀ غونډې انساني شرافت ما په ډېرو کمو خلقو کښې ليدلے دے. د چا نه د وړاندې کېدلو کوشش ئې نۀ کولو، د رتبې او عهدې وږے نۀ ؤ. بې غرضه سړے ؤ، لالچ پکښې نۀ ؤ. د اصولو پابند ؤ. هغه په عوامي نېشنل پارټۍ کښې د اصولو پاسداري غوښته. د ګروپ بنديو په ختمولو کښې ئې ډېر لوئے کردار ؤ. ډېر لوستے سړے ؤ. په ادب مئېن ؤ، د افغان په تاريخ ډېر پوهه ؤ. په عالمي حالاتو ئې ژور نظر لرلو. د ماما غونډې ښه لائبرېري به د چا نۀ وه. کله چې به پېښور ته راغلو، د کتابونو په يو يو دکان به ګرځېدو او د ادب، سياست او تاريخ چاپ شوي اکثر کتابونه به ئې اخستل. د دې ترڅنګ ئې د وکالت په ډګر کښې هم ځان د يو قابل او ايماندار وکيل په توګه ثابت کړے ؤ. د سپريم کورټ وکيل ؤ. کوشش به ئې کولو چې په هر کېس کښې ايمانداري وکړي. فضول او بېکاره کېسونه به ئې نۀ اخستل. ماما ته په ژوند کښې هغه درجه ور نۀ کړې شوه، د کومې چې هغه حقدار ؤ. زۀ د هغۀ په مرګ ډېر خفه شوم، يو ايماندار ملګرے مې وبائللو، د يارانو کډې ګور ته وار په وار ځي".

ماما په انګليسي ادبياتو کښې ماسټر کړې وه، د نصاب استاذ هم پاتې شوے ؤ او د سياست استاذ هم!!! په سياست کښې ئې کتاب متعارف کړو، په سټوډنټس پالېټکس کښې ئې فعال او جاندار رول لرلو. د پښتون سټوډنټس فېډرېشن په فعاليت کښې د سر له سړيو ؤ. هغۀ پښتون اېس اېف ته د سياست او نېشنل ازم د نهال خانې په سترګه کتل. ماما په داسې يو ماحول کښې په اکېډميکو بنيادونو سياسي ذهنونه وروزل، چرته چې سياست د علم نه خالي يو څيز پاتې دے او يارانو پکښې په پراخ مټ د ډنډه مارۍ رجحانات خوارۀ کړي دي. ماما د يو روغ نسل په ذهني تعمير کښې شريک پاتې شوے دے. ځلوېښت کاله ئې په سياست کښې د رڼا خورولو سپېځلې دنده تر سره کړه. د يادونې وړ خبره دا ده چې کوم خلق په سياسي ډګر کښې د ماما ملګري پاتې شوي دي، ټول د کتاب او مطالعې خلق دي، د نظم و ضبط او وفادارۍ خلق دي. د پنځۀ زرو کتابونو مالک عزيز الله ماما په اصل کښې له کتابونو جوړ شخصيت ؤ. د هغۀ کومې ليکنې چې زما تر نظر تېرې شوې دي، د پراخې مطالعې او مشاهدې عکاسي مې پکښې ليدلې ده. ماما ځلور کتابونه ليکلي دي چې د پښتو ادب تاريخ، د طالبعلمانو سياسي فعاليت، پښتون

قامي تحريک او بلوچستان په اړه دي. دا څلور واړه ناچاپ دي. د دې تر څنګ ئې په بېلابېلو مجلو او ورځپاڼو کښې خورې ورې مقالې هم شته.

ماما له غريبې طبقې سره زښته همدردي درلوده، کۀ څۀ هم مالي حالت ئې ښۀ نۀ ؤ خو له غريبو طالبعلمانو سره ئې تر مرګه هر ډول مالي مرسته کوله. د دې تر څنګ ئې په ادبي کانفرنسونو او نورو ادبي کارونو کښې هم له هيڅ ډول مرستې نه ډډه نۀ کوله.

افضل خان لالا وائي "ماما ګڼ اړخيز شخصيت ؤ، د يو ښۀ پښتون ټول صفات پکښې ؤ، په نړۍ کښې ئې د پښتون قام سيالي او همسري غوښته او په پښتنو کښې دننه د غريب د حق طلبګار ؤ. په ټولنه کښې ئې مساوات او برابري غوښته. په اصل کښې طبقاتي مبارز ؤ. زۀ د هغۀ مرګ د پښتون د غريبې طبقې تاوان ګڼم".

افضل خان لالا وائي "ماما ګڼ اړخيز شخصيت ؤ، د يو ښۀ پښتون ټول صفات پکښې ؤ، په نړۍ کښې ئې د پښتون قام سيالي او همسري غوښته او په پښتنو کښې دننه د غريب د حق طلبګار ؤ. په ټولنه کښې ئې مساوات او برابري غوښته. په اصل کښې طبقاتي مبارز ؤ. زۀ د هغۀ مرګ د پښتون د غريبې طبقې تاوان ګڼم".

ماما په موجوده حالاتو کښې د پښتنو دانشورانو له کنټريبيوشن نه راضي نۀ ؤ، هغۀ به وئيل د دانشور کار د ټولنې فکري پيش منظر بدلول دي خو پښتون دانشور په دې حقله قابلِ اطمينان کردار نۀ لري. په بدلېدونکې نړۍ کښې پښتون دانشور او اديب بايد د خپلې قامي فريضې ادراک ولري او په سنجيده او اکاډميکو بنيادونو دې خپل کردار تر سره کړي. ماما په دې حواله ځان په اپ ټو ډېټ ساتو. له پښتو مطبوعاتو سره ئې ژور تعلق ؤ او په پراخ زړۀ ئې د روشن فکرو ليکوالانو او اديبانو حوصله افزائي کوله. ماته ئې هم په دې ډګر کښې زياته مينه او حوصله راکړې وه، "د خپل عهد د ترجمان" پېرزوئنه ئې د ځان دپاره د قامي ذمه وارۍ په توګه اخلم. بايد د دې ترجمانۍ حق په ايماندارۍ او ديانتدارۍ ادا شي. هم دا به مو له ماما سره وفاداري وي او هم په دې توګه د هغۀ حق ادا کېدے شي. کوم کار چې پاتې دے، د هغې د تکميل عزم پکار دے، ځکه چې مبارزه يو روان عمل وي، په دې کښې چې کله د چا خلا راپيدا کېږي، د هغې د سبق او پېغام په توسط دا ادراک بايد وشي چې څومره کار شوے دے او څومره پاتې دے او مونږ ته اوس له کومه ځايه سفر پېلول پکار دي؟ د ماما مرګ يو لوئے تاوان دے. د دې تاوان د تلافۍ دپاره ورومبنے کار بايد دا وشي چې د هغۀ کتابونه چاپ کړل شي. په هم دې توګه به ماما له مونږ سره په معنوي توګه محفوظ او ژوندے پاتې شي. مونږ د ماما علمي کنټريبيوشن ته ضرورت لرو، څوک ذمه وار ذهن بايد دا ضرورت احساس کړي.

وه هجر کی رات کا ستاره، وه هم نفس، هم سخن همارا
سدا رهے اس کا نام پيارا، سنا هے کل رات مرگيا وه

khanzamankakar.kakar@gmail.com